**د خوړو نړیوال پروګرام اعلامیه**

د ۱۳۹۸ لیږدیز لمریز کال د لړم پنځمه

## د اورپايي ټولنې لخوا مرسته په بادغيس کې د پيښو پروړاندې د خلکو تاب راوړنه غښتلې کوي

**کابل –** د خوړو نړيوال پروګرام (WFP) د اروپايي ټولنې لخوا د ۸۹۸،۲۰۰ ايرو نوې مرستې د ترلاسه کولو هرکلی کوي چې په بادغيس کې د تير کال وچکالۍ له امله د سختو ځپل شوو افغان کورنيو سره به مرسته وکړي ترڅو خپل ژوند بيا ورغوي.

دغه مرسته به د خوړو نړيوال پروګرام ته ددې اجازه ورکړي ترڅو په تيره لسيزه کې د سختې وچکالۍ مرکز لويديځ بادغيس ولايت کې د يو کال لپاره له ۲،۰۰۰ کورنيو سره د نغدو پيسو مرسته وکړي. دغه مرسته په ۲۰۱۹ کال کې په افغانستان کې د خوړو له نړيوال پروګرام سره د اروپايي ټولنې مرستې ۱،۴ میلیونه امريکايي ډالرو ته رسوي.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د بشري مرستو او بحران د مديريت کميشنر ښاغلي کريستوس ستايليندیس په دې اړه وويل: " بادغيس يو له خورا وچکالۍ ځپلو ولايتونو څخه دی او اغيزې يې په څرګند ډول د ليدو وړ دي." ښاغلي ستايليندیس زياته کړه: " د مرستو له دوام پرته به تر ټولو اړمنې کورنۍ ونشي کولای چې خپل ژوند او کرهڼه ورغوي. دغه مرسته به له هغوی سره د ژوند په بيا رغونه کې مرسته وکړي."

د وچکالۍ په تعقيب، د خوړو نړيوال پروګرام د ټولنيز مصؤنيت په موخه د يو جال د رامنځته کولود پلان له مخې هغو کورنيو ته چې د خوړو له کمښت سره مخ دي د نغدو پيسو د ويش لړۍ پيل کړې ده چې پکې اړمنو کسانو او ډلو ته د واقعي او د وړاندوېينې وړ د خوراکي توکو، نغدو پيسو او د پيسو د ترلاسه کولو سند ليږدول شامل دي.

په افغانستان کې د خوړو نړيوال پروګرام (WFP) استازي او مشر، زلاتن ميليسيچ په دې اړه وويل: " دغه کار له موږ سره مرسته وکړه چې خپلې بشري مرستې له اوږد مهاله پراختيايي حل لارو سره ونښلوو، او په بيړنيو حالاتو کې د ساده ځواب ويلو پرځای د تاب راوړنې د رامنځته کېدو په لور مو بيايي." ښاغلي ميليسيچ زياته کړه: " د نغدو پيسو مرستې موږ ته ددې اجازه راکړې چې په غوره ډول د اړمنو کورنيو لاس نيوی وکړو او ډاډ ترلاسه کړو چې په شديده توګه د خوړو له نه خونديتوب سره مخ نشي."

د اروپايي ټولنې لخوا د پيسو د ليږد دغه مرسته به د سکوپ له لارې چې د خوړو نړيوال پروګرام د مستحقينو د مديريت ډيجيټلي سيستم دی ترسره شي. له دغه هوسا سيستم سره به اړمن کسان کولای شي خپل مياشتينی مبلغ د ګرځنده ټليفوني شبکو له لارې ترلاسه کړي.

له وچکالۍ ځپلو خلکو سره د خوړو نړیوال پروګرام مرستې د ۲۰۱۸ کال د جولای څخه د ۲۰۱۹ کال تر جون میاشتې پورې په بادغیس کې ۵۰۰،۰۰۰ خلکو ته چې ددې ولایت ۷۰ سلنه وګړي جوړوي، ووېشل شوې چې پکې خوراکي توکي او د نغدو پیسو مرستې شاملې وې. د اروپايي ټولنې په څېر د مرسته ورکوونکو په ملاتړ، د خوړو نړیوال پروګرام د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه په ۲۲ ځپل شوو ولاتونو کې ۳ میلیونه خلکو ته مرستې ورسولې.

# # #

*د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال پروګرام – په بیړنیو حالاتوکې د خلکو ژوند ژغوري او د پایېدونکې پراختیا له لارې د میلیونونو کسانو ژوند ته بدولون ورکوي. WFP د نړۍ تر ۸۰ ډېرو هېوادونو کې، په کړکیچ او پېښو کې ګیر خلکو ته خواړه رسوي او د یوې غوره راتلونکې لپاره بنسټ برابروي.*

پرټویټرمو وڅارئ @wfp_AsiaPacific @wfp_media

**د نورو مالوماتو په موخه له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ:**

وحیدالله امانی، WFP/کابل، ګرځنده ټلیفونږ ۰۰۹۳۷۰۶۰۰۴۸۸۴

برېښنالیک: Wahidullah.amani@wfp.org